# پښتو د تاریخ او لغت په رڼا کي

د پښتو ژبي پر تاریخ باندي ما دمخه دوه جلده کتابونه او هم ډیري مقالې خپرې کړي دي. چي په هغو خپرونو کښي د ځینو پښتو قدیمو کتابونو په سند د پښتو ادب تاریخ لږ څه څرګند سوئ دئ.

مګر ما دمخه ځیني مقالې داسي هم لیکلي وې ، چي په هغو کښي د پښتو ژبي پر وجود باندي د ځینو نورو ژبو د تاریخي کتابونو په رڼا کښي خپرنه سوې وه. اوس ځیني څېړونکي غواړي چي هغه مطالب پر یوه ځای راټول سي، چي په یوه مجموعه کښي سره راغونډ وي. نو دا دئ چي هغه تاریخي او لغوي مطالب دلته په مجموعي ډول ښاغلو لوستونکو ته وړاندي کوم. زمانې زموږ د پښتنو او پښتو تاریخ سره ډیري ناوړي کړي دي او زموږ د اسلافو آثار ئې داسي را څخه محوه کړي دي چي اوس ئې په ډېر زحمت او کړاو موږ لږ ـ لږ څرک په خورا ورکو پاڼو او لیري ګوټونو کښي مومو.

د پښتو ادب درې لرغوني کورنۍ اوس موږ په ملتان او غزني او غور کښي پېژنو چي د غور د سوریانو د امیر کروړ جهان پهلوان یوه حماسي ټوټه شعر تر ټولو قدیم دئ او د هجرت د (۱۳۰) په حدودو اړه لري.

بل هغه پښتو یو بیت دئ چي د غزني په لویکانو پوري اړه لري، د (۱۵۰ ه) کال په شاوخوا کښي او وروسته نو د ملتان لودیانو اشعار دي.

له دې ټولو آثارو څخه دا ښکاري چې د اسلام د راتګ په وخت کښې يو زر او دېرلس سوه کاله پخوا پښتو ژبه له ملتانه تر بادغيس او خراسانه پورې يوه ژوندۍ ژبه وه او درانه او پاخه اشعار ئې لرل.

په دې څېړنو کښې زه پخپله دغه راپاته سوي آثار نه څېړم، او که څوک وغواړي تفاصيل ئې زما په نشر کړو او چاپ شوو کتابو کښې لوستلای سي، لکه پټه خزانه او لومړی ټوک پښتانه شعرا او د لويکانو کتاب، او پښتو ادب تاريخ لومړی او دوهم ټوک.

اما په دې ليک کښې غواړم، چې ځيني خارجي او له دغو منابعو څخه بېل نور تاريخي دلايل سره راغونډ کړم او دا څرګنده کړم چې بېله دغو کتابو، آيا د پښتو د وجود پر قدامت باندې کوم نور دلايل او اسناد هم سته که يا؟

او که سته نو هغه کوم او څنګه دي؟ او له کومې خوا موږ ته په لاس راځي؟

د پټې خزانې په استناد چې له ځينو قديمو کتابو څخه ئې نقل کړئ دئ دا خبره ښکاري چې د غور د پاچهانو د اسلافو سوريانو ژبه پښتو وه او د دوی يوه نيکه امير کړوړ په پښتو شعر ويلی وُ.

د دې مقصد د تائيد لپاره بېله پټې خزانې نور خارجي دلايل له فارسي معتبرو کتابو څخه داسې دي:

د تاريخي مستندو رواياتو په رڼا کښې داسې ښکاري چې د اسلام په اوايلو کښې بيا تر غزنوي او غوري عصره پورې غوريانو غير له فارسي څخه يوه بله ژبه هم لرله، چې د دغو زمانو د مؤرخانو په نوشتو کښې کله کله دغې ژبې ته تصريح يا اشارې موندلې کيږي.

**(۱) د ابوالفضل بيهقي روايت:**

د غزنوي دربار دغه لوی مؤرخ د اميرمسعود د غور د فتوحاتو او سفرو په ترځ کښې د تاريخ بيهقي په (۱۱۷) مخ کښې داسې ليکي.



"امير مسعود حركت كرد بران جانب (جروس غور) جاى دوميش پت ... دانشمندى را برسولى آنجا فرستاد بادو مرد غورى ... تا ترجمانى كنند."

د بيهقي له دې تصريحه ښکاري، چې د سلطان مسعود د دانشمند استاځي د غوريانو په ژبه نه پوهېدئ او دوه تنه غوريان ئې د ترجمانۍ لپاره ورسره بوتلل.

د سلطان مسعود د دربار استاځي خو حتماً په فارسي پوهېدئ، نو معلومه ده چې د غوريانو ژبه فارسي نه وه چې هغه ترجمان ته اړ سوئ وُ. د ترجمان اصل که عجمي وي که عربي خو په عربي قاموس او المنجد او نورو کتابو کښې هغه چاته وايي: چې له يوې ژبې څخه په بله ژبه تعبير کوي يا د يوه سړي مقصد بل ته څرګندوي (المنجد ۵۸ ـ برهان ۴۸۲) اما د بيهقي په لوړ بيان کښې هرو مرو مقصد هغه څوک دئ چې د دانشمند استاځي وينا د غوريانو په ژبه دوي ته ژباړه کي. ځکه که يوازي د سلطان د استاځي مقصد رسول وای، نو هغه په خپله پوه او دانشمند او د سلطان مسعود درباري سړی وُ، بل منځ ګړي ته ئې څه ضرورت وُ؟ او که د غوريانو په ژبه پوهېدلای نو به ئې دوه غوريان له ځانه سره ولې د ترجمان په توګه ملګري کول؟

د بيهقي له دې تصريحه موږ دا نتيجه اخلو، چې د سلطان د استاځي ژبه بېله وه او د غوريانو ژبه بېله وه، او ځکه چې د هغه وخت د غزني دربار رسمي او ادبي ژبه فارسي وه او ټول درباريان حتماً په فارسي پوهېدل، نو دا له ورايه ثابتيږي چې د غوريانو ژبه کټ مټ د غزني د دربار فارسي نه وه، او ځني غوريان په فارسي نه پوهېدل.

**(۲) د جوزجاني روايت:**

د غوريانو د عصر يو ډېر سترګه ور او پوه مؤرخ قاضي منهاج سراج جوزجاني دئ. دا سړی د غوريانو په دربار کښې لوی سوئ

او په بامیان او فیروزکوه او د غور په ټولو ښارو کښي گرزېدلئ وُ، دی عالم او فقیه او سیاسي سړی وُ، ادیب او شاعر وُ، بصیر مؤرخ او د فارسي او عربي پوخ لیکوال وُ، د غوریانو له بابته د ده معلومات عیني او خورا ثقه او درانه دي مگر دا مؤرخ په پښتو نه پوهېد. خو په خپله د شمالي افغانستان سړی او دلې زېږېدلئ، او د غوریانو سره محشور او معروف وُ.

دی هم په طبقات ناصري کښي څو ځایه د غوریانو و بیلي او ځانگړي ژبي ته اشارې کوي. مثلاً د لومړي ټوک په (۳۸۳) مخ کښي وایي:

"و به لفظ غوریان شیث را شیش خوانند"

بل ځای د سلطان علاء الدین غوري د تولک په فتح کښي وایي:

"و بزبان ایشان بالا دوانیدن و به نشیب دوانیدن اسپ را ... گویند". (۱)

ښه ؟ دا لفظ "غوریان و زبان ایشان" کومه ژبه ده؟ که فارسي وای نو د مؤرخ دغه تصریح ته څه ضرورت وُ؟

د تولکیانو د ژبي دوې کلمې به زه وروسته د پښتو سره تطبیق کړم. خو اوس د بیهقي او منهاج سراج له دغو تصریحاتو څخه فقط دا نتیجه راباسم چي غوریانو یوه خاصه ژبه یالهجه لرله او په فارسي ښه نه پوهېدل.

اما دا خبره چي د غوریانو دغه ژبه نو کومه ده؟ شرح ئې لاندي وگورئ: د سلطان مسعود عصر خو پسله (۴۲۱ هـ) څخه شروع کیږي، چي د بیهقي په قول د سلطان استاخي د غوریانو لپاره ترجمان ته اړ وه، مگر په پټه خزانه کښي د دغو غوریانو له درباره موږ ته پښتو شعرونه او قصاید لاس ته راغلي دي. که څه هم پر موجود او معلوم شی باندي دلایل ویل، د حاصلو تحصیل دئ. مگر



غیر له پټي خزانې پر دې مقصد باندي دریم تاریخي او ژبني دلیل هم دا دئ:

**(۳) قدیم نومونه:**

د غوریانو د اسلافو په نومو کښي، اکثر پښتو دي، او دا ښکاره کوي چي دوي پښتانه وو، مثلاً قاضي منهاج سراج د دوی د لوی نیکه نوم شنسب لیکي او د دوی کورنۍ آل شنسب او شنسبانیان بولي.

دا نوم ځیني خلق شنسب د شین او سین په زور تلفظ کوي مگر د دې تلفظ لپاره کوم ادبي یا تاریخي تعلیل نسته او صحیح تلفظ ئې پښتو دئ: شین اسپه چي په آس تسیمه د قدیمو خلقو عام رسم وُ، لهراسپ، شیداسپ، زریسپ، گشتاسپ د قدیمو باختري پهلوانانو نومونه ټول دغسي دي او شین اسپه هم د زمانې په مرور سپک سو، حرف علت ئې ولاړ او د شین په کسره د نون په فتحه شنسب پاته سو. له دې کور څخه د نورو امیرانو نومونه لکه: امیرپولاد، امیر کروړ چي طبقات ناصري او پټي خزانې راوړي دي سوچه پښتو دي او د منهاج په قول د هارون الرشید عباسي خلیفه په عصر کښي د غور دوه تنه امیران سیس او بجی نومېدل. چي املا ئې په خطي نسخو کښي سیش هم ده. په پښتو کښي تر اوسه هم سیسی د یوه دښتي مرغه نوم دئ چي په کندهار کښي ښکار کیږي. او د مرغانو په نوم تسمیه هم خورا ډېره ده، لکه: کوتان ـ توتي ـ بلبل ـ کجیر او نور.

امان ښجی هم د ښځېدل له مادې څخه د مخلوق او موجود او نشوونما کوونکي معنی لري، په پښتو قدیم ادب کښي پنځ د جهان او وجود او پیدایښت په معنی راغلی وُ، شېخ متي وایي:

چي سو ښکاره ښکلې دنیا سوه
د پنځ پر لوري ئې رڼاه سوه (۲)

لکه د هيون تسنگ چيني زاير له خاطراتو ښخه چې ښکاري (شين) يو راز آس وُ چې په افغانستان کښي پيدا کيږي، نو د غوري قديمو اميرانو نومونه لکه : شنسپ ـ پولاد ـ کروړ ـ سيس ـ پنځي ټول پښتو ښکاري.

د سيس نوم په خراسان کښي نور سوابق هم لري :

مثلاً استاد سيس يو بادغيسي قايد وُ چې په تاريخ کښي ډېر شهرت لري، او د سيس نوم په نورستاني او بدخشي‌لهجو او رواياتو کښي هم سته. استاد سيس خراساني مشر له بادغيسه پر عباسيانو راولاړ سو چې طبري او مسعودي او نور مؤرخان ئي ذکر کوي د ده لور چې ميرجيله بلله کېده هارون خليفه ماينه کړه چې د مامون مور وه، او د دې نامه مقامي شکل هم (مور خلا) يعنې (ام النور) ښکاري.

د البيروني په آثارالباقيه کښي مور د يوه بل سيس نوم هم وينو چې دې سړي لومړی پلا د نصرانيت تبليغ په خراسان کښي وکړ، او د ابن اصيبعه په قول محمد بن زکريا مشهور عالم، د سيس منانی يا ثنوی په رد کښي يو کتاب د مخاريق الانبياء په نامه کښلی وُ چې دغه سړی هم د ماني يا د زردشت په دين وُ. (۳)

له دې ټولو رواياتو ښخه ښکاري چې د سيس نوم په خراسان کښي عام وُ، او ښايي چې د سامي شيث سره مشتبه سوئ وي د غوري شاهانو کورنۍ انتساب ضحاک تازي ته کوي او منهاج سراج د ملک الکلام مولانا فخر الدين مبارکشاه مروزی د نسب نامې په حواله دغه مطلب ليکي (طبقات ناصري ۱/۳۷۶) او دا هغه تاريخي نيم افسانوي شخصيت دئ چې د فردوسي په قول د کابل شاه مهراب هم د ده له نسله وُ.

يکی پادشاه بود مهراب نام
زبردست و با گنج و گسترده کام



زضحاک تازی گهرداشتی
ز کابل همه بوم و برداشتی (۴)

دغه ضحاک عرب نه وُ، د ده نوم اصلاً عربي دئ، د طبري په تصريح دغه نوم اصل عجمي دئ، او تازي يعنې تازنده د ده لقب وُ چې پښتون شکل ئې تاځي دئ.

دا کلمه وروسته د عربي تازي سره گډه سوه او خپل اصلي مصداق ئې بايلود که نه وي په فارسي ادب کښي هم د دهقان يعنې بومي او حضرى او ځايي سړي په مقابل کښي د ساراشين تازنده په معنی وه او اسپ تازی هم تازنده آس وُ نه عربي.

ځکه چې د عربستان وچ ريگستان خو اساساً د آس د پروربنت ځای نه وُ، هغه د اوبن مځکه وه نه د آس. ناصر خسرو بلخي وايي

سواران تازنده را نيک بنگر
درين پهن ميدان زتازی و دهقان

فردوسي د توراني ويسه سپاره تازي بولي :

سواران تازی سوی نيمروز
گسی کرد و خود رفت گيتی فروز (۵)

چې په دغو معناوو کښي کورت تازي د عرب معنی نه لري، بلکې مقصد تازنده او پښتو تاځي دئ. د دغه ضحاک په نامه تر اوسه هم د باميان د ضحاک ښار مشهور دئ. او دا نوم په پښتو منابعو کښي سهاک دئ، چې تر اوسه هم مور په پښتنو قبيلو کښي سهاک لرو، او سهک هم نوم ږدو. د سيستان سهاکزی او د فارسي ادب سگزی او د سهاکا تاريخي تازنده قوم چې سگستان او د عربو سجستان د دوي په نامه ياديږي، او تر اوسه هم سهاک زيان په سيستان او هلمند کښي اوسي. دا ټول دلايل دي چې د غوريانو د لوی نيکه نوم سهاک وُ، او د دې نامه معرب شکل ضحاک سو، او ځکه چې دغو تازنده صحرايي آريائيانو به تل پر حضرى او ښاري خلکو حملې کولې. نو

په آريايي رواياتو کښي د ضحاک افسانه پاته سوه، او د تازي کلمه هم اشتباهاً له عربي سره خلط کړه سوه. حال دا چې نه ضحاک عربي و، او نه د سهاکا قبايل سامي وه. بلکې دوی سوچه آريايي قبايل وه، مګر په دښتو کښي د کوچيانو په دود پاته وه او هر کله به ئې پر مدني او ښاري آريائيانو باندي حملې او تاختونه کول. نو دوی تاخي وبلل سوه يعني تاخت و تاز کوونکي، چې د پښتو تيځل (تاختن) هم له دغي ريښي څخه دئ. د غوريانو د رجالو په نومو کښي دغسي د پښتو لرغوني ريښي او اغيزې ښکاري چې ما ئې تش يو څو نمونه شرح کړل، که د ټولو نومو تحليل او شنل وکړم، دا بحث اوږديږي.

**(۴) د ځايو نومونه :**

د غور د ډيرو پخوانو ځايو نومونه هم پښتو دي. د ژبې اثرونه لکه د سړيو په نومو کښي چې پاتيږي، د ځايو په نومو کښي هم ښکاري. يو قوم د خپل کلچر نخښي د انساني ژوند په ټولو اړخو کښي پريږدي. زمان، مکان چاپېر ګرده د دغو نخښو د انعکاس موارد دي.

د ځايو نومونه د يوې ژبې د قدامت پاخه دليلونه دي، او که موږ په تاريخ کښي د پخوانو ځايو او د غرو او درو په نومو کښي د پښتو بولګې او نخښي وينو، نو دا زموږ د ژبې د تاريخي اصالت ټينګ اسناد دي.

که په دوو زرو کالو لرغونيو آثارو کښي دغه زموږ سپين غر په لر لهجوي بېلتون سپيتاګوناګرى بلل سوئ دئ نو دا خو خاص د پښتو سپين کونې غر و. نه د فارسي سفيد کوه چې يو محدث او راغلی نوم دئ. دلته زما مقصد په لرغوني غور کښي د پښتو د بولګو او پاتو نخښو پلټنه ده. که څوک د پښتو وجود ته په غوري دربار کښي د شک په سترګه ګوري، نو دوی بايد د قديمو غوريانو د رجالو او



ځايو نومو ته ځير سي، که هلته پښتو نه وای، نو د دوی په نومو کښي څنګه دې ژبې خپل اصيل او پاخه اثرونه پرېښي دي؟

د مثال په توګه دلته د يو څو ځايو ذکر کوم :

د منهاج سراج په قول د فيروزکوه په ماڼيو کښي يوه ډېره لوړه او ښکلې ماڼۍ برکوشک نومېده. دا نوم څېنو ناپوهو ليکوالو مسخ کړ او بزکوشک ئې وليکلی. مګر صحيح پښتو شکل ئې برکوشک دئ. د پښتو بر کلمه د لوړ او عالي په معنا د ځايو په نومو کښي تر اوسه هم سته لکه بر ارغنداو، بر ګرش، بر پښتون، بر درانی، او د سيستان تاريخ کښي د بر زره يعنی زرهٔ عليا هم دغسي نور و.

منهاج سراج د دې ماڼۍ لوړتيا داسي ستايي : " و آن قصر بر کوشک عمارتی است که در هيچ ملک و حضرت مثل آن بارتفاع و تدوير ارکان و منظرها و رواقات و شرفات هيچ مهندسی نشاند نداده است." (۶)

د غور يوه بله مشهوره کلا بره غونډۍ نومېده، چې دغه نوم هم د ګرديزي په زين الاخبار کښي (برغند) او په تاريخ بيهقي کښي (برغند) ضبط سوئ دئ، او د راورټي د طبقات ناصري په قلمي نسخه کښي (برغند) و او دی وايي چې دا نوم سوچه پښتو دئ. (۷)

په قلمي کتابو کښي خو نومونه اکثره مسخ کيږي لکه چې دغه نوم حميدالله مستوفي په تاريخ ګزيده کښي (غند) ليکلئ دئ.

د غور په لرغونيو کلاو کښي يوه سنګه يا معربه سنجه نومېده ، دا کلا يې د منهاج سراج په قول ماڼۍ بلله، چې معنا ئې په فارسي (کاخ تاج) ده. چې ښائي چې دغه کلا به د شاهانو د تاج اغوستلو لپاره وه.

**(۵) د تولکيانو دوې کلمې :**

منهاج سراج د غور مؤرخ د سلطان علاء الدين حسين په حواله کښي ليکي : چې ده د تولک کلا پسله شړو کلو زياره ونيوله. بيا نو وايي :

"شاعری بود در حصار تولک، اورا عمر سراج گفتندی، در وقتیکه جنگ بآخر میشد و قلعهٔ تولک را بصلح فتح میکرد، این بیت بگفت، لایق بود آورده شه :

بر اسپ نشستهٔ و ورلــــک بولک
مقصود تو، تولک است اینک تولک

و بزبان ایشان بالا دواندین و به نشیب دوانیدن اسپ را ورلک بولک گویند" (۸)

دا چې منهاج سراج د تولکيانو ژبه "و بزبان ایشان" بلله ګڼي دا راښکاره کوي چې د هغو ژبه فارسي نه وه. ښه چې فارسي نه وه نو کومه ژبه وه؟ دلته خو د سرياني يا عربي يا سنسکريت يا مغولي سوال نسته، خو دغه ژبه به يا د فارسي کومه لهجه وه يا به پښتو وه.

ښه ! نو دغه ورلک بولک د کومې ژبې توري ښکاري؟

زما تخمين دا دئ چې : دا کلمات هم پښتو دي. ځکه چې : د دوهمې کلمې املاوي په خطي نسخو کښې فولک، تولک، بولک دي او دغه آخرنی شکل ئې صحيح دئ.

په پښتو کښې ځيني صفات لرو، چې د کاف په الحاق جوړيږي لکه نازک، چخنک، لشمک او نور قبيح صفات.

په لوړ بيت کښې هم د تولک شاعر د سلطان د شپږو کالو کړاو په ملنډيزو صفاتو لږ څه غندلي دي. لومړی کلمه له وړل څخه وړلک جوړه سوه يعنی وړونکی اما دوهمه کلمه له بيول څخه بيولک ده يعنی د آس بيوونکی چې په فارسي رسم الخط کښې (ړ په ر) اوړي. او د بيول حرکي يا هم حذفيږي لکه د دغه مصدر په ځينو مشتقاتو کښې لکه : بوت، بوزي. نو ورلک او بيولک د آس سره د تګ ودوکوونکی او ځغلوونکی معنا ورکوي او شاعر وايي :

دا چې ته آس کــښته پورته وړې او بيــــــايي
که مقصد دي تولک دئ راسه دا ئې ته دا ئې تولک !



د غور په دربار کښې خو فارسي په ښکاره ډول موجوده وه، حتی چې د دغه سلطان علاء الدين ډېر فارسي اشعار منهاج سراج رانقلوي، مګر پښتو هم هلته وه او خلک په پوهېدل، او د غوريانو اسلافو په دري ژبه شعرونه هم ويل.

ښايي چې د سلطان محمود فارسي پروری وروسته د غوريانو پر دربار هم اثر کړئ وي او فارسي د دربار له خوا د دوی په کور ورننوتلې وي. يوه ژبه چې ادبي متعدد آثار ئې په دربار کښې ښکاره وي، د خلکو په وينا او نومو او د ځايو او بلادو په اسماؤ کښې ټينګې ريښې ځغلولي وي نو هغې ژبې ته حتماً په دغه محيط کښې د ژوندانه دورې هم تيرې کړې وي. او ځکه چې تر اوسه لا هم د غور ځيني قديم خلک لکه : تيمنيان او زوريان پښتو وايي، نو تر دې بل ټينګ دليل به څه وي، چې پخوا هم د دوی ژبه پښتو وه.

د غور په شرقي اړخ کښې خو تر اوسه پښتو ژبي پښتانه په کامل اکثريت پراته دي او په زابلستان کښې هم د لويکانو او رتبيلانو او اکثرو کابلشاهانو نومونه پښتو وه، او دا ټوله د هغو خلکو زعم باطلوي چې دوی په غور او غوري دربار کښې د پښتو وجود محال ګڼي.

**(۵) نور جغرافی نومونه** :

د خراسان په جغرافی او نورو نومو کښې د پښتو د کلماتو او اغيزو څرک ايستل په ژبنيو پلټنو کښې يو ګټور مقصد دئ او موږ ته د پښتو قدامت او تاريخي اصالت راښيي په دې څېړنو کښې به زه د مشهورو مؤرخانو په قول ځيني کلمات وڅېړم چې له هغو څخه د پښتو اغېزې په قديمو زمانو کښې ښکاره کيږي.

اواره :

په پښتو کښې اوار د فارسي هموار او عربي مسطح په مقابل کښې يو صفت دئ، چې مؤنث ئې اواره په جغرافی لحاظ هغې ځمکې ته وايي، چې سمه وي او د عربي جغرافيا والو په اصطلاح

هغې ته سهول وايي. د پښتونستان د يوسفزو په سيمه کښي د اباسين را په دې خوا د پېښور تر شماله يوه سرسبزه مځکه پرته ده، چي اوس ئې هم خلک سمه بولي. يعني د شمالي غرنۍ مځکي په مقابل کښي دا علاقه همواره او سمه سطحه ده. او کوم وخت چي يوسفزو د (۸۰۰ هـ) په حدودو کښي پر دې مځکي قابض او ميشته سول. نو دوی هم دا مځکه سمه وبلله او مورږ د اخوند درويزه په تذکره او مخزن کښي د دغي مځکي لپاره دغه نوم وينو. چي وروسته د تواريخ افغان مؤلف حسين خان او پير معظم شاه د تواريخ رحمت خاني ليکوال او افضل خان خټک په تاريخ معاصر کښي همدغه اصطلاح د دغي مځکي لپاره راوړې.

مگر له تاريخي پلټنو څخه ښکاري چي دغه سمه پر دغو مځکو د يوسفزو له راتگه سره استعمال سوي ده، او تر دوی دمخه نورو قديمو پښتنو دغه مځکه اواره بلله او بابر ئې پخپل تزک کښي په فارسي اصطلاح "همواری" بولي.

کوم وخت چي د مسلمانانو فتوحات پر پښتونخوا راغلل يعنی د اسلام په لومړنی پېړی کښي دغه مځکه "اواره" بلله کېده. احمد بن يحيی بلاذری د عربو معتبر مؤرخ او د فتوح البلدان ليکوال "متوفا ۲۷۹هـ" ليکي : چي د مسلمانانو سرلښکر مهلب بن ابی صفره د معاويه (رض) په وختو کښي په څلور څلوېښتم هجري کال د کابل پر پولو غزا وکړه او تر بنه او الاهوار پوري ورسېدئ چي د کابل او ملتان تر منځ وه. (۹)

دغه بنه او الاهوار ځينو خلکو په غلطۍ سره بنو او لاهور گڼلئ دئ، مگر دا خو ثابته خبره ده، چي د مسلمانانو لښکر د حضرت معاويه په زمانه کښي تر اباسين ها پلو هند ته نه وُ تېر سوئ. نو د بلاذری الاهوار کُورټ لاهور نه سي کېدای بلکي دغه کلمه د پښتو اواره ده، چي د عربي الف لام د تخصيص لپاره پر داخل سوئ او



الاهوار ځيني جوړ سو، او بنه ډېری هم تر اوسه په دغه نامه د يوسفزو په سيمه کښي د سليم خان او توټالی پر سرح دسته چي د بلاذری الاهوار هم پښتو نوم دئ يعنی اواره مځکه چي ورسته يوسفزو دغه خپله مځکه سمه وبلله، يعنی اواره او ميداني سيمه. بنه ! چي د حضرت معاويه (رض) او د هجرت لومړی پېړی په ابتداء کښي پښتو نوم "اواره" موجود وُ، نو دا ښنی ثابتېږي چي د اسلام په ابتداء کښي هم پښتو ژبه دلته وه

سپين ځای :

علامه ابوريحان البيروني د قانون مسعودي په نهم باب کښي د ښارو د طول او عرض په جدول کښي يو ځای اسپيدخاک ذکر کوي. دغه نوم تر البيروني پخوا په حدودالعالم کښي سفنجای او په القدسي کښي اسپيدجه وُ، چي په چيني منابعو کښي سپين جای ضبط سوئ دئ. او د دې نامه ډېر قديم شکل پښتو دئ.

مارکوارټ په ايرانشهر کښي وايي : "چي دغه ځای اوسنی ښنين دئ چي په جنوبي پښتونستان کښي د کوړک ها خواته پروت دئ" (۱۰)

ښنين خو د پښتونخوا يو ډېر مهم او قديم ولايت دئ، چي پخوانی نوم ئې پښتو سپين ځای وُ، خو وروسته په فارسي اسپيد خاک او سنفجای سو او دا هم د پښتو کلماتو وجود په اسلامي اولو وختو کښي ثابتوي.

سوریٔ :

سيوری په پښتو سايې ته وايي، او دا يوه ودانه سيمه ده، چي د کندهار د کلات جنوبي خواته پرته او هوتک پکښي اوسي. د مرحوم حاجي ميرويس خان درنه کورنی له دغه ځايه وه او تر اوسه هم د کلات سيوری هر څوک پېژني. له قديمه جغرافيا والو سيوای اوسنی سيوی د بولان ها خواته" چي په والشستان کښي واقع وه او دغه سوریٔ سره گډ کړي دي.

البيروني په قانون مسعودي کښي سيواى د اوسني بلوچستان په ښارو کښي په صحيحه توګه راوړي. (۱۱)

ابوالحسن علي بيهقي (متوفا ۵۶۵ ه) پخپل کتاب جوامع احکام النجوم کښي چي درې ټوکه قلمي نسخې ئې د تهران په کتب خانو کښي سته، امام حسن بن احمد بن عبدالرحمن رانبيبي، او وايي: "الساکن بسيوري من نواحى بست" چي دغه کلمه د کاتبانو په غلطى "بستواى" سوې ده مګر د بيهقي په بل کتاب شرح نهج البلاغه کښي دغه کلمه هم د دغه سړي له نامه سره سمه ليکلې ده، چي "الامام الحسن کان مقيماً بسيوارى و ناحيۀ بالشتان من نواحى بست". (۱۲)

نو سيوارى دغه اوسنى سورى دئ او بالشتان هم تر اوسه د کندهار شمال ته د تيري او ديراوت سره په غريزه سيمه کښي سته، چي قديمو مؤرخانو او جغرافياوالو هم پيژاند

اوچ :

په برسند کښي يو ځاى تر اوسه هم اوچ نوميږي. دا ښار په اسلامي اولو وختو کښي مشهور وُ، علي بن حامد د چچ نامې ليکوال په دغه ښار کښي اوسېد او منهاج سراج جوزجانى د طبقات ناصري مؤلف هم له غزني څخه د دغه ښار پر لار هند ته ولاړ. دا ښار د مؤرخانو په قول د سند حضرت يعنى پايتخت وُ، او ډېر اسلامي پوهان او ستانه پکښي وه چي تر اوسه ئې بقايا تر نوري ځمکي لوړ د اباسين پر هغه غاړه پر برسند کښي ښکاري.

د دې نامه ريښه تر اوسه هم په پښتو کښي ژوندۍ ده "اوچت" هر لوړ شي ته وايي چي اوچتول او مشتقات ئې هم په خبرو کښي وايو دا کلمه په واخي‌لهجه کښي هم اوچ او په منجي کښي "اچ" سته (۱۳) په سنسکريت کښي هم واچ په فلکي اصطلاحاتو کښي د "کلايمکس" لپاره وُ، او د فارسي اوګ يا اوج هم د خوارزمي د



مفاتيح الحلوم په استناد (۱۴) هم له دغې ريښې څخه دي. دا ښار ئې ځکه اوچ باله چي سطح او ودانى ئې لوړه او اوچته وه، او په پښتو کښي هم تر اوسه ژوندۍ او مستعمله کلمه ده. چي اثر ئې په پخوانو جغرافي نومو او فلکي علمي اصطلاحاتو کښي ښکاره دئ، او د فارسي ادب اوج کمال هم له دې ريښې څخه وي.

**(۶) د ابوريحان په آثارو کښي :**

ابو ريحان البيروني چي د (۴۳۰ ه) په حدودو کښي د افغانستان او هند په ګوټ ګوټ کښي ګرزېدلئ او هر ځاى ئې علمي او ژبني تحقيقات کړي دي. پخپلو کتابو کښې ډېر داسي کلمات راوړي چي هغه سوچه پښتو دي.

مثلاً د الصيدنه د خطي نسخې پر (۷۱) پاڼي ليکي : برى زيتون د پښتنو په غرو (الجبال الافغانيه) کښي کيږي چي داني ئې کوچنى وي او دوى ئې (ښوني) بولي دا نوم د کاتبانو په تصحيف شولني يا شوئي نوشته سوئ دئ خو اصل ئې پښتو (ښوني) يا (خوني) دئ چي مفرد ئې (ښونه) ده يعنى ښه ونه او دا ئې ځکه (ښه ونه) بلله چي د پخوانو په نظر کښي مقدسه ونه وه حتى چي په قرآن کښي هم په دې بوټي لوړه سوېده.

البيروني دغه نوم پخپله په جبال الافغانيه کښي اروېدلئ وُ، او ځکه چي دى يو محقق ژب پوهاند دئ نو ئې د دې کلمې ملتانى نوم هم راوړئ دئ دوالملتانيون يسمونه کوه چي عين دغه نوم په پنجاب پلانټس انګريزي کتاب (۱۵) کښي هم **Khau** يا **Ka** ضبط دئ. د الصيدنى په (۲۰) مخ کښي هم دغه محقق بوټ پيژاند (نبات شناس) ليکي :

د رخد او زابلستان تر منځ په درمشان کښي يو راز برى پياز پيدا کيږي چي ډېر کوچني او سره يا سپين وي دا پياز ترخه نه وي او په سالن کښي اچوي او کوک ئې بولي.

دغه کوک د پیاز په معنی تر اوسه هم د غرنیو پښتنو په محاوره کښي دئ خو په ښارو کښې پیاز بولي او د پښتو په قدیمو متلو کښي هم راغلئ دئ. البیروني چي د کوک د پیدا کېدو ځای درمشان ښوولئ دئ دغه ځای تر اوسه هم پدغه نامه په جنوبي غور کښي سته او د منهاج سراج په طبقات ناصري کښې د غوري عصر ځینې درمشانې مشاهیر هم ذکر کیږي.

بل یو مشهور نبات چي بیروني ئې په الصیدنه (۸۱) پاڼي کښي راوړي د سیستان د محبوسو په ژبه بوی هربذان دئ چي په هندي ئې مهلت بولي او دغه نبات به زردشتیانو په خپلو اخترو او هدیرو کښي دوداوه او په زابلي ژبه ئې ملخج باله دا نوم په پښتو کښي تر اوسه هم سته او ملخوزي ئې بولي چي پاڼي ئې پخوي او دانې ئې د لنګو ښځو په غذا ا ودوا کښي پکاریږي. د البیروني له دغه تصریحه ښکاري چي زابلی ژبه پښتو وه او ملخوځي په هغه وخت کښي هم د نباتاتو پوهانو په پښتو پېژندې په فارسي دې دانو او بوټي ته شنبلیله یا شنبلیت وایي چي عرب ئې حلبه او انګریزان ئې فینوګریک بولي. (۱٦)

بله کلمه چي البیروني ئې د زابلستان له ژبې ځخه راوړي شیځه ده چي د الصیدني پر (۱۰۸) پاڼې باندي املا شیخ لیکلې سوې ده. دا بوټی په پسرلي شین کیږي او ځینې خلک ئې پخوي ابوبکر بن علی بن عثمان د الصیدني فارسي مترجم وایي چي دا ګیاه په فارسي شراش او په فرغاني ژبه شیشغ او په عربي خنثی بولي.

"و برګ این نبات را در فصل بهارب بپزند و بخورند و بیخ آنرا در وقت تعذر غذا بجوشند تا تلخی او دفع شود و در عوض طعام بکار برند." له دې کلمې ځخه هم موږ د البیروني په تصریح معلوموﻻی سوای چي د زابلستان د خلکو ژبه پښتو وه. او شیځه بهاري ګیاه د دوی په ژبه البیروني ضبط کړه.



احمدشاه بابا وایي :

که کرم دئ د بهار زما په مخ ـــــــکه به وار راسي
لومړی پسرلی به زه هسي رنګ شین سم لکه ښیځی

دغسي هم البیروني د زعفران په شرح کښي وایي : چي یو راز زعفران په درمشان (هغه د جنوبي غور سیمه) کښي شنه کیږي چي رنګ ئې سپین خو اثر ئې قوي وي. دغه زعفران په درمشان کښي الدرغوژی او په سیستان کښي زعفران شورک بولي.

د خطي نسخې دغه کلمات مصحف ښکاري، اوله کلمه د درمشان په ژبه غوري ده یعنی داسي زعفران چي درې پاڼې لري او عیناً دغه کلمه د سیستان په فارسي سه برګ وه چي د خطي نسخې کاتب شبورک ضبط کړه او اصلاً سه برګ وه.

البیروني دا زیاتوي چي په زابلي ژبه یو ډول سپین اما ضعیف اثره زعفران غویژک هم بولي. او دغه کلمه هم غوږک ده چي یو برګه زعفران وُ او د الصیدني په فارسي ترجمه کښي هم اوله کلمه درغوژی یعنی هغه د عربي الدرغوژي وه چي معنا ئې په فارسي سه برګ وه (۱۷).

د البیروني په الصیدنه کښي (۱۸) یوه بله کلمه هم سته چي شکل ئې په خطي نسخو کښي غوشنه دئ. او البیروني له عیسی بن ماسه نصرانی طبیب ځخه رانقلوي چي غوشنه په بلخي ژبه غونیک او په سغدي ئې غونک بولي، دا یو نبات دئ چي کالي په مینځي او د مجوسو ښځي ئې د بوروځي پر ځای استعمالوي. د برهان قاطع لیکوال وایي : چي غوشنه د اول توري په پېښ او د دوهم په سکون او د دریم او ځلورم په زور د یوه ګیاه نوم دئ چي تازه خوړل کیږي او په وچ ئې کالي مینځي او ښځي له هغه ځخه حلوا پخوي او د چاغوالي لپاره ئې خوري. (۱۹) د اسدي په لغت فرس کښي هم دا کلمه راغلې ده، د یوسف عروضی د دغه بیت په استناد :

آن روی اوبسان یک آغوش غوش خشک
و آن موی اوبسان یــــک آغوش غوشنه

ډوزی (۲۰) د ابن البیطار پـه قـول غوشـنه يـو ډول نامعلومـه پوخکۍ بولي د برهان قاطع ليکوال هم دغه سماروغ گڼي.

دا کلمه د پښتو "غوښنه" ده يعنی داسي نبات چـي خـوړل ئـي غوښي زياتوي او د برهان قاطع په قول سړی چـاغوي. او كـه مـوږ دغه يو ډول پوخکۍ وگڼو نو پوخکۍ خو هم شکلاً يو غوښنـه گيـاه ده، او دا نوم ئې له ظاهري شکله سره هم لگيږي.

**(۷) په لغت فرس کښي** :

دا پښتو نومونه ما د البيروني له الصيدنه څخه راواخيستل اوس به يو څو نومه هم له بله کتابه راوړم.

د فارسي لغت قـديمترين کتـاب چـي اوس پاتـه دئ علـی بـن احمد طوسی د (۴۵۰ هـ) په حدود کښي ليکلئ دئ. دی د يوه گياه ذکر کوي چي نوم ئې غراوشه وُ، او جي لا گـان يـا چميـاران هغـه سره وتړي او اوبه په پاشي. د دې لغت لپاره اسـدي د لبيبـي دغـه بيت شاهد راوړي :

چو غرواشه ريشی بســـرخی و چندان
كه ده ماله ا زده يکش بست شايد (۲۱)

دا کلمه چي د يوه گياه نوم دئ اصلاً غر واښه يعنی د غره گياه وه او دواړه اجزاء ئې پښتو دي.

بله پښتو ژوندۍ کلمه خاشه ده چي اسدي ئې هم د ريزهٔ کـاه وچو په معنی راوړي او د فردوسي دغه بيت پر شاهد کوي :

بهر خاشه يی خويشتن پرورد
بجز ويراچه اندر خورد (۲۲)

اسدي د لغت فرس په (۱۱۵)م مخ کښي وايي : "فيال آغاز بـود بلغت بلخ" چي دغه کلمه تر اوسه هم د کندهار په پښتو کښي د پيل



په شكل په دغه معنی موجوده ده په کار پيل کول يعنی د کار آغـاز، دغسي هم له دې ريښې څخه بله ژوندۍ کلمه پيلامـه هـم لـرو او ښکاره ده چي دغه کلمـه د بلـخ پـه ژبـه کښـي "پيـال" وه او پښتو ژوندۍ ساتلې ده، اسدي د ابوشکور بلخي دغه بيت د فيـال سـند راوړي :

مر اين داستان کش بگفت از فيال
ابر سيصدو سی وسه بـــود سال

مرحوم دهخدا د ايران متاخر محقق وايي : چي پـه دغـه بيت كښي فيال د آغاز معنی نه لري د ابتكاراً مفهوم څنی ښکاري مگـر د پښتو د پيل په استناد ويلای سو چي د اسـدي اصـلي مـتن صـحيح دئ.

**نور لغتونه** :

په ژبنيو څېړنو کښي د ژبو د مقايسوي پلټنـي ابحـاث خـوراڼهم دي. او د دغو پلټنو په مرسـته مـوږ كـولای سـو چـي ډېـر ادبـي او تاريخي حقايق څرگند كړو او د يوه محيط د ژبو اولهجو او يو له بله تاريخي روابط او خپلوي څانته معلومي كاندو، دا بحث د اجتمـاعي پلوه هم گټور او مفيد ښكاري، ځكه چي د انسانانو او ټولنو پخواني روابط او خپلوي موږ ته راښئي او دا ثابتوي چي د دوو مجاورو ژبـو ويونكي لكه اوس چي سره گاونډيـان او خپلـوان او پـه يـوه سـيمه كښي دوه اوسېدونكي ورونه دي، دغسي پخوا هم د مشتركو عنعناتو خاونـدان وه، او يـو ادبـي تـاريخ او د مشـترک ثقافـت او تهـذيب پخواني آری لري.

دا ادبي او اجتماعي مفيد بحث موږ ته راښيي چي پخـوا زمـوږ اسلاف د خراسان په مشترکه سيمه کښي د مشترکو عنعناتو خاونـدان وه او دوی د ثقافت له ويوې گډي سرچينې څخه اوبه څښلـي دي چي د هغه اغيزې اوس زموږ په ژبـه ا وادب او ژوندانـه پـه مختلفـو

مظاهرو کښې ښکاره دي. او زموږ پښتو ژبې د فارسي ادب ځینې تاریخي کلمات تر اوسه لا هم په خپله غېږ کښې ژوندي ساتلي دي.

پښتو ژبه د آسیا په منځ کښې د ژبو او پخوانو کلماتو د یوه محفوظ او گرانبها موزیم په توگه موجوده ده او په دې لرغونتون (دارالآثار) کښې تر اوسه لا هم د ویدا او اوستا او پهلوي او سنسکریت سره مشترک او ښکلي آثار خوندي پاته دي، او د پښتونخوا دنگو غرو او رغو پخپله فیاضه غېږ کښې دغه لرغوني آثار د گرانبها غمیو په توگه راساتلي دي.

اوس به موږ د فارسي ادب په ښکلي او زرغون باغ کښې لږ څه سیر وکړو او دا به وگورو چې د لرغوني فارسي ځینې رنگین گلونه څنگه د پښتو په بڼ کښې هغسې سمسور او غوړېدلي پاته دي، حال دا چې په خپله اوسنۍ فارسي هم په محاوره هم په لیک کښې له هغه گلونو څخه تشه ده، او هغه لرغوني کلمات اوس په فارسي کښې نه دي ژوندي او نه ویل کیږي.

**پښتو گواښ او فارسي گوشیدن :**

په اوسنۍ فارسي کښې کوشیدن د زیار په معنی سته، مگر یو بل مصدر د گوشیدن په شکل په لرغوني فارسي کښي وُ چې مړ او ورک دئ. له دې گوشیدن څخه پخوا په فارسي کښې ځینې مشتق کلمات هم مستعمل وه، مثلاً : گوشوان، گوشنده، بگوش، گوش روز.

فردوسي د خراسان لوی شاعر(۴۰۰ ه) په حدودو کښي دغه مصدر او مشتقات پېژندل په شهنامه کښې د کابلي مهراب له خولې د ده مایني سیندخت ته داسي وایي :

بگوی آنچه دانی و جانرا بگوش
و گر چادر خــــون بتن برپپوش

دغه گوشیدن په لرغوني فارسي کښې د ساتني او حفظ او صیانت په معنی وُ، او د فردوسي په لوړ بیت کښې هم (جانرا



بگوش) یعنی ځان وساته معنی لري، خواجه حافظ شیرازی هم دغه کلمه داسي راوړي :

ای ملک العرش مرا دش بده
وزخطر چشم بدش دار گوش

یعنی د بدو سترگو له خطره ئې وساته.

د فارسي ادب په پخوانو متونو کښي هم د دغي کلمې له مشتقاتو څخه اغیزې ښکاري مثلاً : د خواجه عبدالله انصاري هراتي په طبقات الصوفیه کښي گوشیدن وقت کـټ مـټ د عربي د صون الوقت ترجمه ده او یو ځای وایي : "و اگر الله نگوشد این عقبهٔ عظیم است" یعنی که څوک خدای ونه ساتي. بل ځای وایي : "خویشتن میگوش از فتنه" یعنی ځان له فتنې څخه ساته.

د پیر هرات د یوه شاگرد رشیدالدین میبذی په تفسیر کشف الاسرار کښي چې په (۵۲۹ ه) لیکلئ شوئ دئ گوشوان په دغه معنی سته، مثلاً د حافظو علی الصوه په تفسیر کښي وایي : " بر استاد کنیدو گوشوان باشید" دی گوشنده او گوش دارنده هم راوړي او داسي ښکاري چې دغه ریښه په اوستا او پهلوي کښې هم وه او گوش د یوې فرشتې نوم وُ چې څاروي به ئې ساتل او د هري میاشتي په څلورلسمه به ئې هم گوش روز بلله، چې البیروني په عربي ډول جوش زور راوړې ده، او سعدي ئې غش او په خوارزمي ئې غوشت بلله، مسعود سعد سلمان د غزني پیاوړی شاعر وایي :

گوش روز ای نگار مشکین خال
گوش بر بط بگیر و نیـــک بمال

په نامه تکنسک کښي چې له پهلوي څخه پاته غوره اثر دئ ابن اسفندیار وایي : "صلاح روزگار آن بهتر ا زآن گوش دارد که غم زمان خویش" چي دلته هم گوش دارد د ساتني او حفظ معنی لري او د سلمان ساوچي دغه بیت هم د دې مطلب لپاره یو تینگ او څرگند دلیل دئ :

"ای صبا گـــر خـــــاک او بدست آید ترا
دره ای زان گوش داری از برای چشم من"

دا ټوله ادبي اسناد چې د فارسي ادب له ښکلي ښه راټول کړل سول دا ثابتوي چې گوشيدن يو پخوانی او اصيل مصدر په دری ادب کښي وُ چې اوس ئې استعمال بالکل هېر سوئ دئ او حتی خيني خلک ئې له گوشيدن سره خلط او گډون هم کوي، اوس به راسو چې په پښتو کښي د دې کلمې ريښه څنگه ژوندۍ ده، او څنگه ئې دغه د اسلافو وديعه راساتلې ده؟

په پښتو اوس موږ گـواښ، گواښـل، گواښـندوی، گواښـوونکی، گواښلي داسي ژوندي کلمات لرو چې معنـی ئـې هغـه حفاظـت او صيانت او ساتنه ده مثلاً : اڅک خان له لمره وگواښه او سـيوري تـه راغی، اېمل د دوو تنو تر منځ گواښ کاوه.

په اوسني ادبي او عصري ادبي ضروریاتو کښي دغه گواښ مـوږ هلته استعمالوو چې د دوو دولتو پـه سياسـي کشـالو کښـي يـود ريم منځگړی او گواښ وکړي.

ته :

د فارسي ادب پـه تـاريخ کښـي عبـاس بـن طرخـان د دريمـي هجري پېړۍ د بلخي برمکيانو د دربار يو شاعر تېر سـوئ دئ چـي په عربي او فارسي ئې شعر وايه، د ده له فارسـي اشـعارو څخـه ابـن خرداد به په خپل مسـالک الممالـک کښـي دوه بيتونـه راوړي دي. وايي چي عباس د طرخان زوی د سمرقند د ښار پر ورانتوب بانـدي داسي ويلي وه :

سمرقند کند مند
بذينت کی افگند
از چاچ ته بـــهی
هميشه ته خهی !



يعنې اې ورانه سمرقنده ! چا داسي کړې ؟ تر چاج (تاشکند) تـه تل ښه ئې ! دا قطعه د فارسي ادب يوه پخوانۍ اصيله ټوټه ده خـو په دغه کښي د پښتو اوسنی خطابي مفرد ضـمير دوه واره پـه دوهـم بيت کښي راغلئ دئ يعنی (ته) او د دوهم بيت آخره مسرۍ بالکـل اوسنۍ پښتو ده: "همېشه ته خيې ! چـي اوس مـوږ کـټ مـټ دغـه جمله دغسي استعمالوو. دغه ضمير چي په پښتو کښي اوس پـه دغـه شکل او معنا سته او مستعمل ژوندی ضمير دئ. د فارسي پـه هـروي لهجه کښي هم وُ. خواجه عبدالله انصاري په طبقـات الصـوفيه کښـي وايي :

" الله تعالی (ج) (تـه) بـه خويشـتن از خويشـتن بمبـراد (تـه) بـه خويشتن از خويشتن بمپوشاد !" او له دې څخه هم ښکاري چـي پـه قديمـه دري کښـي موجـود او مسـتعمل وُ مگـر اوس ئـې پـر ځـای (تويا ترا) وايي. اما پښتو دا قديمه وديعه راساتلې وه

خه :

بله کلمه (خه) ده چي اوس ئي موږ ښه يا کټ مټ خه وايو.

دا کلمه هم په پخوانۍ فارسي کښي وه، او په لوړه قديمه قطعـه کښي ته خه يې عيناً پښتو تعبير او اداء ده، دغه خو ابولحسـن شـهيد بلخي د رودکي په مدح کښي داسي استعمال کړېده :

شاعران راخه و احـــسنت مديح
رودکی راخه و احسنت هجيست

پښتانه اوس هم وايي : "پلانی خه سړی دئ"

او د تحسين په مقام کښي داسي وايي :

"خه _ خه ! دا عجبه لوړه ونه ده"

صدرخان خټک د دلي او شهو په قصه کښي وايي :

(خه چي ته پخپل مراد سوې تازه خاندي
که زه ستا له غمه مرم بـلا راباندي ... )

دغه (خه) ډېر پخوا په اوستا او پهلوي کښي (هو) ؤ چي وروسته هی په خی واوښته او موږ گورو چي دغه ډېر قديم (هو) هم اوس په پښتو کښي په ايجابي ډول موجود دئ او معنا ئې هم هغه (خه ـ ښه) ده مثلاً:

هو ـ زه به کتاب ولولم، د مېړه هو، وي او نه نه !

سخت ـ زخت :

په دري ادب کښي د تاکيد او ډېروالي د قيد په ډول خورا ډېره مستعمله وه اوس ئې د فارسي په ويناو کښي د استوار او محکم په مفهوم استعمالوي مگر هغه خاص دستوري حال ئې بايللئ دئ.

ريښه ئې په سنسکريت کښي سکته د توانا په معنا او په دري قديم ادب کښي داسي استعمالېده بيهقي وايي : "شير سخت بزرگ نيک قوی بود" و " سوی با کاليجار نامه ئی بود درين باب سخت نيکو بغايت" و "طاهر آنجاست و مردی است سخت کافی و بکار آمده."

د تاريخ طبري او تفسير طبري په فارسي ترجمه کښي چي د سامانيانو د عصر قديم کتابونه دي هم سخت په دغه قيد او وصفي مفهوم ؤ مثلاً : په تفسير طبري کښي وايي : "موسی گفت سخت نيک آيد (۲۳) ابوالعباس رينجني د (۳۳۰ ه) د شاوخوا شاعر ويلي ؤ :

سخت خوب آيد اين سه بيت مرا
که شنيدم زشاعر استــــــــاد

دا لغت په فارسي ادب کښي د خپل نقيض او مقابل سره هم د تاکيد په ډول راغلئ دئ.

لکه : "من عهد تو سخت سست ميدانستم"

په پښتو کښي تر اوسه هم دغه کلمه په دغه تاکيدي او د ډېرښت په معنی وه او په دوو شکلو ژوندی ده، کندهاريان وايي : "پلانی سخت غښتلی دئ !"



"نن سخته ښه هوا ده !" عيسی اخندزاده ويلي ؤ :

دلربا په خندا راغله سخته ښـــه سوه
موزيگی په ژړا راغله سخته ښه سوه

کټ مې دغه کلمه د پښتو په شرقي برخه کښي هم د زخت او زخته په شکل ژوندی ده، مثلاً : "ايلم زخت لوړ غر دئ" يا : "د کنړ زخته ښه ځمکه ده." يو شاعر ويلي ؤ :

غاښ دي خراج اخلي له گوهرو نه له عاجه
زخته دلربا ئې د دلــــــــــبرو د سر تاجه !

کټ :

هر پښتون اوس کټ پېژني او د پښتنو په ديرو کښي خو ضرور کټونه وي چي دوی پر کښېني خو په اوسنۍ فارسي کښي تخت يا چارپائی يا صندلي بولي. دا کلمه هم په پخوانۍ فارسي کښي د تخت په معنا وه، بوشکور بلخي (۲۴) کت شاهي داسي يادوي :

روزارمزداست شاها شــادزی
برکت شاهی نشين و باده خور

سيستاني فرخي د سلطان محمود په ستاينه کښي وايي :

خلافت جدا کرد جيپاليان را
زکتهای زرين و شاهانه زيور

له دغو دواړو ادبي سندو څخه ښکاري، چي پخوا ئې شاهي تخت هم کت باله لکه چي اسدي طوسي هم له افسره او شاهي تاجه سره يو ځای راوړي دي :

که بر خون برانم کت و افسرت
برم زی سرانديب بی تن سرت

اوس بايد فکر وکړو چي دغه د معتبر او د شاهي دربار کټ ولي په تخت بدل سو؟ د دې علت دا دئ چي دا کټ خاصه مقامي او خراساني کلمه وه وروسته چي د غرب لخوا په فارسي ژبه د تخت

كلمه راګډه سوه نو كټ خواركى له شاهي درباره د پښتنو بانډو او ډېرو ته پاته سو، او ځاى ئې تخت ونيوئ، چي تر اوسه هم په ادب كښي مستعمل پاته سو، مګر د كټ د كلمې اصالت او قدامت خو له تېرو اسنادو څخه ثابت دئ.

ښايي:

په پهلوي او فارسي كښي يو مصدر شايستن يا ييتن د توانستن په معنا وُ، په اوستا كښي ريښه ښاى وه، مګر په فارسي كښې معنى وروسته سزاواري او مناسب والى سوه چي شايان او شايسته او شايد له دغي ريښې څخه دئ. سعدي وايي:

"خردمندى كافى بايد تاتد بير را بشايد" (۲۵)

فرخي وايي:

تو بدين از همه شايستـــــــه ترى
همچنين باش و همه ساله تو شاى

بل ځاى سلطان محمود داسي ستايي:

اى آنكه ملك هرګز بر تو بدل نجـــويد
اى آنكه خسروى را از خسروان تو شايي

د منفى نونه سره بل ځاى دا كلمه داسي راوړي:

همه دشمنى از تود يدم و ليكن
نګويم كهت و دوستى را نشانى

د ميبدى په كشف الاسرار كښي راغلي دي: "حرمت رفيق ګيريد تا پيشګاه را بشائيد (۱/۵۴)."

دغه كلمه تر اوسه هم په پښتو كښي د مفرد غايب لپاره د ښايي په ډول تاكيد او احتمال لپاره استعماليږي، مثلاً: د تاكيد لپاره محقق كندهاري علامه حبيب الله وايي:

كل ثنا چي ئې خوک وايي
په خالق د جهـــان ښايي



د احتمال لپاره داسي ويل كيږي: "ښايي چي احمد به راغلى وي"

د ميرزا حنان كندهاري دغه غزل د ښايي مختلف د استعمال موارد راښيي.

کـه کـوي راسـره ډېـره جفـا ښـايي
رسـا حسـن لـره جـور رسـا ښـايي
لـه حيا پـه آئينـه کـي کـتـاى نـه سـي
کـه کـوي بېګـانګي لـه آشـنا ښـايي
که لـه لاسـه مي نن بوى درومي د عطرو
چي خلاص کړئ مي دئ بند د قبا ښايي
پـه تغيير ئـې سپين مخونـه کـړه د ترکو
کـه ئـې وبـولم خـط تـوره بـلا ښـايي
چي پـه آه مي د زړه دواړه مژګان کـج سوه
کې غمزه غـواړي لـه زړونو خونبها ښـايي
چي لـه خيالـه و آفتـاب تـه سم نـه ګوري
پـر مهتـاب کـه طعنـه کـړي دلربـا ښـايي

هېښ او هاژ:

پـه پخوانـي فارسـي کښـي هـاژ موجـود وُ چـي اوس متـروک او مړ دئ د فارسي ژبي ډېر پخـواني شـاعر بوشـکور بلخـي چـي د څلورم هجري قرن په ابتداء کښـي ژونـدى وُ دا کلمـه ئـې داسـي راوړې ده:

ديو بګرفته مر تا بفســـوس
تو خورى بر زيان مال افسوس
همه دعوى کنى و خـــايى ژاژ
در همه کار ها حقيرى و هـــاژ

اسدي طوسي د لغت فرس ليكوال او د برهان قاطع خاوند دواړه د دغه هاژ معنی متحير او فرومانده او خاموش او درمانده ليكي چې له دغي ريښي څخه هاژ و هاژه، هاژيدن هم ښايي چې پخوا مستعمل وُ (٢٦). د دې هاژ معنا فرهنگ والو د بوشكور د لوړ بيته معلومه كړېده او دا ښكاري چې ډېر پخواني لغت دئ خو ريښه ئې تر اوسه هم په پښتو كښې خوندي ده پښتانه تر اوسه هم دا كلمه هېښ وايي او هېښېدل هم د هغه هاژيدن اصل دئ.

كندارپان وايي : پلانی هېښ پېښ ولاړ دئ، يا ئې سترگې هيښې پاته دي، شيخ متی كلات بابا ويلي وه :

دلته لوی غرونه زرغونيږي
سترگي ليدو ته ئې هيښيږي

توم ـ تومنه :

د آريايي اقوامو په قديمو فلسفي رواياتو كښې چې محمد بن زكريا رازي پخپله ما بعد الطبيعه فلسفه كښې ځای كړئ دئ، پخوا پنځو اساسي او قديمو شيانو اصالت درلود چې ارمزد اوگا (زمان) او جای (مكان) او توم (جوهروسرشت) او خلا وه.

له دغو كلمو څخه توم يعنی جوهر او خميره اوس موږ په پښتو كښې د تومني په شكل لرو مگر د دې كلمې ريښې په تاريخي نومو كښې هم د تمان او تما په ډول سته مثلاً : زردشت يې سپين تمان يا بسپيتما باله يعنی داسي سړی چې جوهر او تومنه ئې سپينه سپېڅلې وه.

تر اوسه هم پښتانه وايي : د پلانی تومنه ښه يا بده ده او كاكړان هم (خانتما) نوم لري يعنی خانزاده او خان اصله. دا نوم وروسته يو صفت هم سو چې پر مفتخر او مغرور اطلاقيږي او دا يو قسم معنوي توسعه ده چې د (خانتما) لغت ميندلې ده. نو د قديم توم لغت اوس په پښتو كښې د تما او تومني په ښر موجود دئ.



گرم ـ گروم :

گروم موږ اوس غم اندوه ته وايو څني پښتانه ئې گرم هم تلفظ كوي او په همدغه تلفظ په فارسي قديم ادب كښې موجوده كلمه وه. مثلاً : رودكي د (٣٠٠ هـ) په حدودو كښې داسي وايي :

هر كه سر از پند شهـريار پيچد
پای طرب را به دام گرم درافگند

فردوسي هم دا كلمه ډېره راوړې، لكه :

زچنگال يوازن همه دشت غرم
دريده برو دل پر از داغ و گرم

شمس المعالی قابوس ديملی چې د سامانيانو او غزنويانو معاصر وُ داسي ويلي وه :

شش چيز ديگر نگر وطنشـان دل من
عشق و غم و درد و گرم و تيمارو حزن

دا كلمه په پښتو ادب كښې هم مستعمله وه. ملا ميران پوپلزي ويلي دي :

آزاد مــرغه يم نښتی په لومه
زړگی مي چاودي له ډېره گرومه

داسي كلمې چې د فارسي په قديم ادب كښې د پښتو نښانې او اغېزې راښكاره كوي د تاريخ او ادب په زړو كتابو كښې خورا ډېرې دي چې وروسته به زه يو څو نوري هم د نمونې په ډول سره راټولې كم.

غرچه ـ غرڅه :

غرڅه او غرڅنی اوس په پښتو د غره مړه ته وايي خو دا كلمه په فارسي قديم ادب كښې د كوهي او روستايي او مجازاً د ساده لپاره استعمالېده او ريښه ئې هغه د پښتو غر دئ، بديعي ويلي وه :

بفريبد دلت بهر سختى
روستاى و غرچه را مانى !

ابو طيب مصعبي‌چي د سامانيانو لوی وزير او ليکوال او د عربي او فارسي پوخ شاعر او د (۳۲۶ هـ) په حدودو کښې وزير ؤ يوه ډېره فصيحه او خوږه قطعه لري چې مطلع ئې دا ده :

جهانا همانا فسوسى و بازى
كه بر كس نپايى و باكس نسازى

په دې قطعه کښې وايي :

صدواند ساله يكى مرد غرچه
چراشصت وسه زيست آن مرد تازى

په دغه بيت کښې هم د غره سړی او ساده کوهي ځينې مقصد دئ چې د غرچه په دود ساده وي. احمدشاه بابا وايي :

زه غرځه يم ستا مژگان مې وېروي
بې درکه د ناوک گزار کوي

غرنگ ـ غرانگه :

غرنگ د اسدی طوسی په قول د ژړا ږغ دئ چې منجيک ترمذی د غريو سره يو ځای داسې راوړئ دئ :

کار من در هجر تو دايم نفيرست و فغان
شغل من در عشق تو غريوست و غرنگ

خسرواني د ساماني عصر يو شاعر د (۳۵۰ هـ) په حدودو کښې وايي:

رخت ديد نتوانم از اب چشم
سخن گفت نتوانم از بس غرنگ

هغه منجيک شاعر په بل بيت کښې داسې راوړي دي :

بخروش اندرش گرفته غريو
بگلو اندرش بمانده غرنگ



دا قديمه کلمه هم اوس له فارسي څخه ورکه ښکاري خو په پښتو کښې غړانگه کټ مټ په دغه معنی ژوندی ده. د اوښ ږغ غړانگه بولي. او اوښ غړانگې وهي. او مجازاً د سړو سره هم هغه وخت استعماليږي چې په لوړ ږغ او بد آواز فرياد او کوکاري وهي. يوه پښتون شاعر ويلي وه :

نيمه خوا کړلې خزان تنکى څانگې
په کوربل وهي عاشق بدي غړانگې

داسې ښکاري چې غړانگې د مطلق لوړ فرياد، او کوکارو نوم ؤ، او دا چې د اوښ ږغ غړانگې بلل سوي دي د دې لغت يو مجازي اطلاق به وي.

سوک ـ ځوکه :

په پښتو کښې سوکه يا ځوکه اوس موږ داسې استعمالوو: د چاکو ځوکه، د غره ځوکه، د جامې ځوکه، د بام ځوکه، د آسمان پر ځوکه مياشت ښکاري. شاکري بخاري (۲۷) په يو بيت کښې دا کلمه داسې راوړې ده :

اندام دشمنان تو از تير ناوكى
مانند سوك خوشهٔ جو باد آژده

دا کلمه متاخرو فرهنگ والو د فارسي له سوک يعنى ماتم او غمه سره گډه کړې ده (۲۸) مگر په اصل کښې سوک په گاف او سوک په کاف ؤ چې دغه دوهم شکل ئې د پښتو له ځوکې سره پوره معنوي او ظاهري شباهت لري.

په لغت فرس کښې هم د دې کلمې معنى په تخمين او اټکل (خار خوشهٔ گندم و جو) ليکلې سوېده. مگر په اصل بيت کښې د اوربشو د وږي ځوکه مراد ده او اصلاً وږی خار او او اغزی نری بلکه لږ څه زيږ وي. خوشحال خان ويلي وه :

چې و باز ئې ورکولې تېرې نوکې
تر تېهر به ئې ايستې د زرکي ځوکې

دلته هم د باز د تېرو نوکانو څوکې مقصد دي.

کواره ــ کباره :

ناصر خسروقبادياني بلخي ويلي وه :

ترا این تن یکی خانه سفنج است
مزور بل مغر بل چـون کباره

دغه کباره په فارسي اوس سبد بولي، د باميانو د غلغلې له ښاره چې کومې فارسي ليکنې پيدا سويدي او د کابل په موزيم کښې وې په هغه کښې دا کلمه کواره راغلې ده چې د ځينو ارغنداويانو خطونه وه.

په کندهار کښي تر اوسه هم کواره سته چې د انارو او اغزو له لښتو څخه ئې ارغنداويان جوړوي او د کندهار ټوله مېوه په دغو کوارو کښي ورله کيږي، کواره خو سورې سورې وي نو ځکه د ناصر خسرو په بيت کښي د مزور او مغربل صفات ورسره راغلي دي.

داسي ښکاري چي کواره د ارغنداو د وادي مقامي کلمه وه چې په قديمه فارسي کښي مستعمله او اوس په پښتو کښي ژوندۍ پاته ده.

شيون ــ شوان :

د فارسي اوسنۍ کلمه شبان په قديمه دري آثارو کښي شوان هم راغلې ده چي خواجه عبدالله انصاري (رح) ئې په طبقات الصوفيه کښي په دغه ډول استعمالوي. د دې کلمې پخوانۍ شکل په فرس قديم کښي شوپاون او په پهلوي کښي شوبان وُ، په فارسي کښي خو دغه کلمه واوښته مگر په پښتو کښي تر اوسه هم هغه قديم ډول خوندي کړ، اوس موږ شپون، شپانه، شپه درې سره په پښتو کښي وايو او داسي ښکاري چي پښتو ئې هغه قديم او اصيل ډول ساتلئ دئ.

هوپره ــ اوپره :

د خواجه عبدالله انصاري په طبقات الصوفيه کښي هوپره کلمه د يوې عربي جملې او دعا په ترجمه کښي راغلې ده، چي اصل ئې



خيرک الله يا جبرک الله وُ، دا ادعائيه ځينو فرهنگ والو په غلطۍ کښي حيرک الله ويلي او د خواجه عبدالله انصاري د فارسي جملې (خدا ترا هوبره کناد) ترجمه ئې حيران ليکلې ده، ايوانوني له ځانه د هوبره معنی په انگريزي هوپ فل يعنی اميدوار راوړې ده. او اکثرو فرهنگ ليکونکو د دې کلمې په معنی کښي غلطي کړېده خو اصله کلمه هوبره او د پښتو موجود (اوپره) ده.

هو په قديمه آريائی ژبو کښي د پښتو د هواو ښه په معنی وه پره هم جنبې او مسلک او رفتار ته وايي، نو هوپره يعنی د نيکي پرې خاوند، نيک راه ، او نېک روش، دا کلمه تر اوسه هم په کندهار کښي سته پخوانو پښتنو خپل گاونډيان او د نورو ځايو راغلي خلک احتراماً اوپره يعنی د ښه روش او ښې جنبې خاوندان گڼل او دوی به ئې هوپره يا اوپره بلل.

د زمانې په تېرېدو د دغي کلمې لومړنی احترامي مفهوم لړ سو، او اوس پره پاته سوه.

له دې ټولو مثالو څخه ښکاري چي د قديمو ژبو د تحقيق او پېژندني او څېړني لپاره د پښتو مطالعه ډېره ضرور ده او د پښتو په مرسته موږ د فارسي او پهلوي ادب ډېر زاړه مشکلات حل کولای سوای.

هنرمن بې اسره ــ بريخ ــ غلجي :

بزرگ بن شهريار د دريم هجري قرن په پای کښي د بحر له خوا هند ته راغلئ وُ دی وايي چي : د بحيره عرب د ساحلي ښار چيمور (صيمور) راجه يو سرې د مسلمانانو د اداري او مشرۍ لپاره د (هنرمن) په ډول مقرر کړ(۲۹).

دا کلمه له هنر او پښتو "من" څخه جوړه سوې ده، چي وروسته عربو له دغي کلمې څخه د خپلې ژبې پر اصولو سم يو مصدر هم جوړ کړ او "هرمنه" ئې د هنرمن د فعل او کار نوم وبلله. ځکه چي

مسلمانان د جنوبي پښتونخوا له خوا هند ته تللي وه، نو دوی دغه پښتو نوم د خپل مشر لپاره هم له دې ځمکې څخه له ځانه سره وړئ وُ چي په عجائب لهند کښي پاته دئ. هم په دغه ښار کښي المسعودي عربي سياح او مؤرخ په (۳۰۴ هـ) کال يوه بله کلمه اروېدلې وه. دی د خپل مروج ذهب (۳۰) کښي وايي : هغه عرب چي په هندوستان کښي زېږېدلي دي په چيمور کښي "بيا سره" بولي. د مسعودي دغه کلمه هم کټ مټ د پښتو "بې اسره" ښکاري، چي عربو معربه او يو ځای وليکله، او معنی ئې مسافر او غريب الوطن او بېچاره ده.

د عربو يو بل مدقق مؤرخ ابن واضح اليعقوبي دئ، چي خپل تاريخ ئې (۲۹۲ هـ) کال په حدودو کښي ليکلئ دئ. دی له عجمي ژبو څخه يوه معربه کلمه (الشهريج) راوړي، چي معنی ئې هم د ښار د مشر يا ښاروال وُ. (۳۱)

دغه کلمه هم د پښتو پر قاعدو برابره "ښهريخ" ښکاري يعنی هغه څوک چي د ښار مشر او اداره کوونکی وي، چي په عربي ئې رئيس الکور هم دغه اليعقوبي ليکلې ده، او کوره په عربي د خلکو د استوګني يوه ناحيه بولي (المنجد) او د پښتو ښهريخ يوه تاريخي کلمه ده.

په پښتنو قبيلو کښي موږ برېخان ښه پېژنو، او د پتي خان برېخ او رابيا عشقي داستان او د دوی نارې په ټولو پښتنو کښي مشهوري دي دغه برېخان خو اوس په ښوراوک کښي د کندهار جنوب ته اوسي. مګر پخوا د دوی استوګنه له بسته تر جنوبي پارس پوري وه، او تر اوتر او هم په جنوبي بازر د دوی په نامه دئ.

محمد بن احمد بشاري مقدسي (۳۲) د قفص او بلوص او بارز غرونه او د دوی جنګونه په تفصيل يادوي (۳۳). او ابن مسکويه د (۳۶۰ هـ) کال په جنګو کښي د دغو قبيلو اميران ابو سعيد بلوصی او



علي بن محمد البارزي په کرمان او سيستان کښي يادوي. دغه عربي سوي نومونه خو کوچي او بلوخ او برېخ دئ،چي ابن مسکويه ئې هم په تجارب الامام کښي (۳۴) رحالهٔ جرومیه بولي. يعنی د ګرم سېر کوچيان او دغه قبايل تر اوسه هم يو ځای سره اوسي.

د البارزا ملا د مظهر بن طاهر المقدسي په کتاب البدوالتاريخ کښي (۹۲/۴) البارج ده چي د (۳۵۵ هـ) په حدودو کښي د دوی سيمي له کرمانه تر زرنج او بست او غوره پوري يادوي.

نو لکه عربو چي پښتو ښهريخ اخيستئ او له هغه څخه ئې الشهريج جوړ کړ دغه زموږ پښتو برېخ ئې هم البارج يا البارز وليکلئ.

د پښتنو يو لوی او غښتلي جزء غلجيان دي، د دوی نوم اصلاً غرزی او غلجي دئ دا نوم هم په تاريخي دورو کښي هر چا هر راز ليکلئ دئ او ځينو خلکو لا له مغولي او ترکي خلج يا خلخ سره هم خلط کړيدي.العتبی په تاريخ يميني کښي د سبکتګين په لښکرو کښي د افغانيه او خلج ذکر يو ځای کوي. او منهاج سراج چي په هند کښي د خلجيانو فتوحات او رجال تر بنګاله پوري يادوي، دوی له ترکانو څخه بېلوي، حتی د هند مؤرخ ضياء برنی په تاريخ فيروز شاهي کښي تصريح کوي چي پخوا د ډيلي شاهي د ترکانو وه مګر کله چي سلطان جلال الدين خلجی د ډيلي پر تخت کښېنوست. نو ځکه چي خلجي تورکان نه وه دی ليکي "و ملک خلجيان شهريان را بغايت دشوار نمود." (۳۵)

په خپله پښتانه دغه کلمه غلجي تلفظ کوي، او دغه د هند خلجيان هم غلجي وه خوشحال خان وايي :

بيا سلطان جلال الدين پر سرير کښېناست چي په اصل کښي غلجي دولت وُ بيا له پسه تعلق شاه چي امراء وُ. پرورش ئې د غلجيو په دولت وُ د خلجو اصلي نوم پښتو غلجي = غرزی دئ. خو فقط غين په خې اوښتئ دئ او دغه تبديل په قديمو نومو کښي نور هم

ښکاري مثلاً د غور ساخر د منهاج سراج په قول سور غر وُ، او د قديمو جغرافيه والو خرخيز اوس قرغيز دئ. پر دې خبره باندي چي د خلجي کلمه اصلاً غلجي وه، يو ټينګ تاريخ سند دا وي :

چي کوم وخت سلطان جلال الدين خوارزم شاه په غزني او پروان کښي د چنګيز خان سره جنګېږي، په دغو وختو کښي ډېر خلجي خانان له دغه سره ملګري دي او منهاج سراج وايي : و سلطان جلال الدين منکبرتي و ملک خان هرات بغزنين رسيدند و لشکر بسيار و امراء غور و تاجيک و خلج و غر بخدمت ايشان جمع شدند" (۳۶) دلته خو منهاج سراج تورکان او خلج سره بېل کړي دي او جويني هم په خپل جهان کشا دوهم ټوک کښي د پروان د جنګ تفصيل ليکي او تصريح کوي چي دغه جنګ د خلجيانو په مړانه وګاټه سو او د چنګيز لښکري ماتي سوې.

مګر د دغو غلجو اصلي مقامي نوم غجلی وُ، او تلفظ ئې هم دغسي وُ د افغانستان غربي خواته له هراته بيا په ټول اوسني ايران کښي هر قاف په غين اړوي، قزان غيران، او قرآن غرآن بولي، او په هغو وختو کښي هم ايرانيان په فارسي ژبه د غلجي کلمه غلجي تلفظ کوله .

د محمد بن علي حموی تاريخ المنصوري په عربي ژبه د يوې قديمي خطي نسخې څخه د مسکو د شرقي پوهنو د اکاديمۍ په همت عيناً عکسي چاپ سوئ دئ. په دې کتاب کښي هم د خوارزمشاه ملاتړ مکرراً قلجي يادېږي نه خلجي (۳۷) او دا کلمه دغه عربي مؤرخ له فارسيانو څخه اروېدلې وه، چي غلجي به ئې قلجي تلفظ کول.

ښه ! که دغه کلمه په هغه وخت کښي خلجي تلفظ کېدای نو فارسيانو ته خو ضرورت نه وُ چي خې په قاف بدله کړي. د تاريخ منصوري له ضبطه بر الا ښکاره ده چي فارسيانو دغه کلمه قلجي تلفظ کوله او له پښتنو څخه ئې غلجي اروېدلي وه، نه خلجي. او بيا چي عربو له فارسيانو څخه قلجي واروېده، کټ مټ ئې همدغسي ضبط کړه، او دا غلجيان هغه پښتانه وُ چي تر اسلام دمخه ئې په زابلستان کښي شاهي لرله، او تر کشميره او هندوستانه ئې فتوحات کړي وه، او بيا په اسلامي دوره کښي په هند کښي تر بنګاله شاهان وه او اسلام ئې د نيپال تر غرو پوري رسولئ وُ.(۳۸)



## لمن ليکونه


۱. طبقات ناصري ۴۱۱/۱ طبع حبيبي
۲. پټه خزانه ۲۷
۳. طبقات الاطباج ـ ۱/ ص۳۱۵
۴. شهنامه ۱۲۰/۱
۵. شهنامه ۲۰/۱
۶. طبقات ناصري ۲۱۰/۱
۷. انګليسي طبقات ناصري ۱۵۱/۱
۸. طبقات ناصري ۴۱۱/۱
۹. فتوح البلدان ـ ص ۴۳۳
۱۰. ايرانشهر ص ۲۷۷
۱۱. ص ۲۹
۱۲. مهر ۴ دوهم کال
۱۳. ص ۷ ـ د افغانستان لهجې.
۱۴. ص ـ ۲۲۱
۱۵. ص ـ ۲۸
۱۶. وګورئ برهان قاطع ۱۲۹۹
۱۷. الصيدنه ۶۷ پاڼه
۱۸. ۹۷ پاڼه
۱۹. برهان ۱۴۲۸
۲۰. ج ۲/ ص۲۳۱
۲۱. لغت فرس ۶۹
۲۲. لغت فرس ۶۹
۲۳. ۲ ـ ۳۸۵
۲۴. د ۲۴۰ ه حدود
۲۵. ګلستان
۲۶. لغت فرس ۱۷۶ ـ برهان ۴ ـ ۷ ـ ۲۳

۲۷. ۳۰۰ ه حدود

۲۸. برهان

۲۹. عجايب الهند ۱۴۴

۳۰. جلد په ۸۵ مخ

۳۱. تاريخ اليعقوبي ۲۳/۱

۳۲. ۳۷۵ ه حدود

۳۳. احسن التقاسيم ۴۷۱

۳۴. ج ۶ ص ۳۵۹

۳۵. ص ۱۷۳

۳۶. طبقات ناصري ۶۵۹/۲

۳۷. ص ۴۱۰

۳۸. وږمه مجله، ۱۳۴۷ کال، د جوزا او سرطان گنه، ص ۱ _ ۳۵.